# نظارشورا ولې د مقاومت او جهاد لوبه توده ساتي ؟

دا چې ولې د پنجابي اووه ګونو او ايراني اتو ګونو جهادي تنظيمونو منځ کې يوازې نظارشورا او جمعيت ، د مقاومت او جهاد لوبه توده ساتي د انديښنې او پاملرنې وړ خبره ده .

نظارشورا او جمعيت ځان د جهاد او مقاومت شارګ او نور جهادي تنظيمونه بدل او ځان اصل بولي. د دوی په اند جهاد او مقاومت نن سبا يوازې دوی ته پاتې دی ، جهادي تنظيمونه په نورو سوداګريو بوخت دی . د دوښمن مخې ته يوازې دوی سپر دي ، که دوی نه وي جهاد او مقاومت اوبه وړی !

جهاد او مقاومت چې له پيله ترې نظارشورا او جمعيت جلا انځور درلود او د خپلو ځانګړو ګټو لپاره يي کاروه ، خو اوسمهال هغه د خپلو لنډمهاله او ستراتيژيکو ګټو لپاره د غوڅې وسيلې پټوګه بولي .

مخکې هم جهاد او مقاومت د دوی لپاره د کرکې ، بېلتونپالنې او سيکټاريستي ګټو لپاره يوه وسيله وه خو نن بيا حالاتو ته په پام جهاد او مقاومت دوی ته د يادشويو موخو لپاره نوې لوري او افقونه پرانيځي !

نظارشورا نن مقاومت په نوې منځپانګې سره د مرکزي دولت د ټينګېدو هڅو د مخنيوي لپاره کاروي ، په داسې حال کې چې جهاد بيا په لويه کچه د افغانستان د تجزيي ، په تاجيکستان ( ۱ ) او ايران د هيواد د پلورلو هڅو ته بېل شوی دی .

مقاومت ددې لپاره کيږي چې دولت له منځه خوسا کړي ، جوړېدو او ټينګېدو ته يي پرنږدي . کار اهل کار ته نه بلکې د مقاومت او جهاد پر بنسټ د کار ويش ادامه ولري . په دولتي او حکومتي مهمو پستونو کې د نظارشورا او په تېره بيا د پنجشير سړيخواره کينولې وساتي .

د دولت چارواکي چې د جهاد او مقاومت په خم کې نه وي غوټه شوي ، که په پوهه کې له خولې اور وغورځوي او کار کې سترڼيا ونه پيژني ، د مقامت او جهاد په ښوونځي کې دوه توته ارزښت نلري.

د معاصر دولت د دندو پر ځای بايد د امر صاحب ( احمدشا مسعود ) د غلا ، چور او سړي وژنې لارې چارې مخې ته يووړل شي . د احمدشا مسعود په ښوونځي کې پالل شوي کادرونه د هر مرض دوا او د هر سترې امسا ده . يوازې د نظارشورا پلويان او لارويان هره غوټه پرانيستلای او هر سنګر فتحه کولای شي !

نو ځکه دوی غواړي چې د مرکزي دولت پښې ځمکې ته ونه رسيږي ، پياوړی او غښتلي نه شي او د افغانانو او نړيوالو منځ کې نوم بدي ، رسوا او ناکام وي .

ياني مقاومت د حکومت او دولت سبوتاژ ته بېل شوی .

خو د جهاد خبره بيا د نظارشورا او جمعيت له نظره نوره هم پراخه او پيچلې ده . هغه ستراتيژيکو او اوږدمهالو ګټو او موخو ته په پام کې نيول کيږي . نظارشورا او جمعيت د جهاد تر نوم لاندې افغانستان په نښنه کوي . جهاد بايد افغانان د ملي ګټو په پيژند او حصول کې له پښو راوغورځوي . دلته جهاد د افغانستان د تاريخ ، پيژند او شتون په ضد کاريږی .

البته دوی ښخوا هم جهاد د همداسې موخو لپاره پیل کړی و . له هغه ځایه چې د جهاد لوبه د دوی لپاره کاري وختله اوس غواړي د هغې منځپانګه په نویو تاکتیکونو ، شعارونو او چلوټو پیاوړې کړي ترڅو د وخت له غوښتنو سره سمون ولري .

د سپټمبر په ۱۳ مه ډېل عبدالله او ضیا مسعود د کابل طب پوهنتون کې زده کوونکوته په وېناوو کې همدا شان زهر پاشي . دې غونډه کې احمد ضیا مسعود د ولسمشر پخوانی لومړی مرستیال د مجاهدینو پرمشرانو د نیوکې په ترڅ کې وایي « رهبران مجاهدین پس از برگزاری کنفرانس بن، بدون هیچ دلیلی میراث معنوی، سیاسی و نظامی ملت افغانستان « مقاومت و جهاد ! لیکونکی » را دودست به گروه کوچکی که از غرب آمده بودند، تسلیم کردند. »

دلته ضیا مسعود له تېر مقاومت او جهاد څخه د ځان په ګټه نوی تعریف وړاندې کوي . مسعود غواړي ووایي چې د مجاهدینو او مقاومت خېلو پخوانی نقشه چې افغانستان به ختموي ولې نیمګړې پاتې شوه . مسعود خېل پوهیږي که د مقاومت او جهاد لوبه توده وي ، تصمیم به دوی نیسي او پلي کوي به یې نور مجاهدین ، توطیي او چلوټې به د دوی وي خو مختوري به یې د نورو مجاهدینو وي . په دې صورت کې نظارشورا په اسانی سره کولای شي هغه کسان چې غواړي افغانستان وژغوري د مجاهدینو او مقاومت خیلو په مټ له میدان څخه لرې وساتي او د مجاهدینو تر ماسک لاندې واک او ځواک لکه څنګه چې تر اوسه پورې دوی سره دی په راتلونکې کې هم ټول له دوی سره پاتې وي .

خوله دې څخه زیاته د خندا وړ خبره د امید او تغییر د ائتلاف ښاغلي مشر( ! ) ډېل عبدالله ده ، نوموړی وایي « من در آن زمان حامد کرزی را یک شخصیت جهادی میدانستم و به این باور بودم که او میتواند وحدت ملی را در میان تمام اقوام افغانستان به وجود آورد و به همین دلیل ، از او کورکورانه حمایت کردم. »

د عبدالله په ګومان څوک چې جهادي شخصیت او بیا مشرهم وي ملي یووالي ( داسې ملي یووالی چې نظارشورا یې غواړي ) ښه پرځای کولای شي . خو ده هېر کړي چې په ۹۰ ومو کلونو کې رباني هم جهادي شخصیت او هم د دولت مشر و ، خو واکمنۍ کې یې نه یوازې د ملي یووالي سیوری شتون نه درلود بلکې هغه مهال جمعیت او نظارشورا ، افغانان یو د بل غوښو ته کېنولي وو.

چا چې د پنجاب او ایران په جاسوسی مدرسو کې زده کړه کړې وي ، له هغوی څخه د افغانانو منځ کې د کرکې ، دوښمنۍ او جګړې پرته بله تمه یوه بابیزه خبره ده !

ډېل عبدالله دې غونډه کې د مجاهد او مقاومتچي له سنګره نورې ډزې هم کوي ، وړاندې ځي او وایي « من در میان رهبران جهادی بیشترین حمایت را از کرزی میکردم و بدون حمایت من از او(کرزی) غیرممکن بود که او ده سال به کرسی ریاست جمهوری تکیه بزند. »

د ډېل عبدالله د لاپو برعکس د طالبانو له ماتې روسته نظارشورا او جمعیت ، لس کاله د مرکزي دولت د ټېکښت د مخنیوي په موخه وجنګېدل . نظارشورا د مرکزي دولت د پاتې راتلو اوماتې لپاره له هیڅ وسیلې څخه ډډه نه ده کړې . دوی او نورمجاهدین لکه چینجي دولت له منځه خوري ، خو طالب او نور ترهګر یې بیا له بهر څخه !

ډېل عبدالله د ولسمشرۍ په دوهم پېر ټاکنو کې د ایران او نورو په مرسته ښه زور وواهه خو ټاکنو کې پاتې راغی او کله چې یې خپله ماتې ولېده په پای کې له ټاکنو وتښتید . دا چې وایي کرزی دده او نظارشورا په مرسته ټاکل شوی ، د خندا وړ او جامو سره د افغانانو په سترګو کې ورننوتل دي .

همدارنګه عبدالله عبدالله د نوي نسل د بېلاریتوب لپاره وایي « آمر صاحب شهید را به خاطر اشتباهات ما قضاوت نکنید، چون ما خویش، قوم و دوست آمر صاحب هستیم و اشتباه می‌کنیم؛ اما او مانند ما نبود. »

دلته ډېل عبدالله له مسعود څخه بت جوړوي او مسعود داسې موجود بولي چې له اشتبا پاک دی او فتیشیزم ( بت پالنې ) ته پنا وړي .

خو عبدالله هیروي څنګه چې دیګ هسې تبېږ ، څنګه چې غر هسې کربوړی !

که احمدشا مسعود خپله د زمردو ، لاجوردو غل نه وای نو نورو لارویانو به یې ولې غلا کوله . د رباني او احمد شا مسعود په واکمنۍ کې څو ځلې د کابل شاهزاده سرای چور شو . په دې پیسو کې د احمدشا مسعود په ګډون دوی ټول شریک وو . د کابلښار چور تالان د مسعود په لارښوونه او د هغه د یارانو په ګډون وشو. د چور او تالان په زرګونو پېښو ، د بیت المال او ارشیف په غلاوو ، د خلکو په وژنو او عام قتل کې مسعود او ډله یې یو شان مسولیت لري !

نظارشورا غړي حتی پکول هم د مسعود پشان اغوندي ، پټو هم د هغه پشان پر اوږو اچوي . د فهیم ، عبدالله ، قانوني ، احمدولي ، ضیا او د نظار شورا د نورو لوړپوړو غړو تقریباً ډېر خویونه ، کړه وړه او سلوک احمدشا مسعود ته په یوه یا بله بڼه ورته پاتېږي .

عبدالله چې ځان د مسعود د قوم او سیمې بولي ، ځان د هغه لاروی شمیري او ځوانانو ته لارښوونه کوي چې د مسعود په لار لاړ شي نو د غلا ، چور او انسانوژنې پرته د مسعود په لار کې کومه بله ښېګڼه شته چې ځوانانو ته بېلګه شي ؟

د داسې روزنې پایله به څه وي ؟ د ځوانانو بېلاریتوب ، د مشر لار د کشر پوله !

بلخوا ښوونځي او پوهنتونونونه ددې ځای نه دی چې شرګډي ، کرکه اچوونکي او بېلتونپالان هلته پرېښودل شي چې تنکیو ځوانانو ته بېلارې خبرې ورزده کړې او هغوی د ځان پشان په کرکه او دوښمنۍ کې وروزي . پوهنتون او ښوونځي د زده کړې او روزنې ځای دی .

دا چې عبدالله وایي « مسعود شهید دنیایی را برای ما کشت کرد؛ اما ما این کشت آماده را نتوانستیم درو کنیم ؛ پس فرد فرد ما در حوادث بعد از شهادت آمر صاحب مسوول و مقصر هستیم. »

مسعود خو د کرکې ، دوښمنۍ ، ورور وژنې او بېلتونپالنې کښت کرلی دی او نظارشورا او د هغې په سر کې عبدالله ، فهیم ، قانوني او نورو شریکبانو هغه ښه په درځ پاللی ، نو عبدالله له دې زیات څه غواړي او مسعود له دې نور څه غوښتل !

پای

اخځونه :

-(۱) : افغان ـ جرمن انلاین برېښناپاڼه

« د ر جستجوی تاجیکستان بزرګ » له مقالې څخه : د بروس ریچاردسن لیکنه ، د ښاغلي رحمت اریا ژباړه

ــ خاوران برېښناپاڼه

د ۲۰۱۱ کال د سپټمبر ۱۷ مه

سرلوڅ مرادزی